مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

د ګل جان صابر ژباړه

۲۰۲۲/۰۱/۰۵

# د نن غوسه سبا ته پرېږده

## د کوچنیانو لپاره کیسه

په پخوا وختو کې یوه لرګي خرڅوونکي ژوند کاوه. هغه به ټوله ورځ په دښتو او خوړونو کې ګرزېده، لرګي به یې را ټولول، مازدیګر به یې خپل راټول شوی لرګي بازار ته راوړل او په دری ټنګې به یې خرڅول. بېوزله لرګي خرڅوونکي په دې پیسو ډوډۍ را نیوله او په دې ډول یې خپله مېرمن او خپل یوازینی زوی ساتل. خوار لرګي خرڅوونکی په تیاره کې پورته کېده او په تیاره کې ویده کېده.

یوه ورځ د نورو ورځو په څېر لرګي خرڅوونکي خپل د لرګیو بار بازار ته راوړ او هغه یې په دری ټنګو خرڅ کړ. پیسې یې د ملا په دسمال کې تاو کړې او د ډوډۍ پخولو ځای ته ور روان شو چې ډوډۍ رانیسي. په لاره کې د یوه سپین ږیري سره مخامخ شو. سپین ږیري ده ته وویل:

- ای، لرګي خرڅونکیه! ما ته یوه ټنګه راکړه زه به تا ته یوه ډېره ښه مشوره  در کړم.

بېوزله هیله لرله ریښتیني خبره(مشوره) واوري نو له ځان سره یې وویل:«څه پروا لري، زه اوس دری ټنګې لرم، یوه ټنګه به سپین ږیري ته ورکړم  زما سره بیا هم دوې ټنګې پاتې کیږي. لږ تر لږه خو به یوه ښه مشوره واورم».

د ملا د دسمال څخه یې یوه ټنګه را وا خیستله، هغه یې سبین ږیري ته ورکړه او ورته ویې ویل:

- اوس نو خپله ښه مشوره را ته ووایه!

سپین ږیري وویل:

- د نن ورځې غوسه سبا ته پرېږده.

لرګي خرڅونکی په غوسه شو او په سپین ږیري یې ور حمله کړه:

- که چېرې زه پوهېدلی وای چې ته، سپین ږیری خبریال ما ته داسې بې ارزښته څه وایې ما به تا ته یوه ټنګه نه وای درکړې، هله ژر شه زما ټنګه بېرته راکړه.

د دوی دواړو په شور ماشور خلک راغونډ شول. تر هغو چې بېوزله لرګي خرڅونکي خلکو ته خپل شکایت اوراوه او  هغوی ته یې روښانه کوله چې څه پېښه شوې سپین ږیری په ګڼه ګونه کې ورک شو.

لرګي خرڅونکی ټوله شپه ویده نه شو، دا څه دي! په څومره خواري یوه ټنګه پیدا کوم او  هغه هم بې ځایه ولاړه.

سهار د تل په څېر وختي را پورته شو، تبر یې په ملا کې وواهه، پړی یې په اوږه وا چاوه او روان شو.

لرګي خرڅونکی روان و او د لاسه تللې ټنګې په برخه کې یې فکرکاوه. په دې فکرو کې دومره ډوب و چې پوه نه شو چې بېخي ناآشنا ځای ته راغلی او لار یې ورکه کړې ده.

هغه په لارو او غرو کې ډېر لالهاند شو خو په پای کې یو حیرانوونکي ښار ته راورسېد. د دې ښار آسمان دومره ټیټ ځوړند و چې کولی د شول لاس ور اوږد کړې او هر ستوری چې د خوښ وي را وایې خلې او په جېب کې واچوې، خو دا ستوري نه بلکه ارښتمن غمي وو.

د لرګي خرڅوونکي دا ښار دومره خوښ شو چې خپل ګران  ټاټوبی، مېرمن او وړوکی زوی یې ټول هېر شول او په دې جادویي ښار کې د اوسېدو له پاره پاتې شو.

لرګي خرڅوونکی دلته دومره خوشاله و چې پنځلس کلونه تېر شول خو ده ته داسې ښکارېده چې پرون راغلی دی.

یوه ورځ یې خپله مېرمن او زوی ور په یاد شول:«هغوی به هلته څه کوي؟ دوی ته بېله ما ژوند کول سخت دي».تبر یې په ملا کې وواهه، پړی یې په اوږه واچاوه او د خپل ټاټوبي لوري ته روان شو.

لرګي خرڅوونکی خپل کور ته ماښام ناوخته په تیاره کې راورسېد او د وره په سوریو کې یې د کور د ننه ور وکتل.هغه ولیدل چې د ده مېرمن او یو  ځوان دسترخوان ته ناست دي او د ماښام ډوډۍ خوري. لرګي خرڅوونکي چې دا ولیدل بېخي حیران شو: ته وګوره دسترخوان ته ناست دي او د ماښام ډوډۍ خوري. دا څه معجزه ده!



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

لرګي خرڅونکي په دې فکر کې و چې ناڅاپه یې ډېره لوږه احساس کړه. باید هم وږی وي ځکه چې ټوله ورځ یې هېڅ هم نه دي خوړلي. لرګي خرڅونکی ډېر په غوسه شو:«دا څه بې مزې حالت دی! زه د دې په ځای چې دسترخوان ته ناست وای او د خپلې مېرمنې د لاس خواږه خواږه مې خوړلی، په دې ساړه کې وږی د خپل کور په دروازه کې ولاړ یم. یو څه سم نه دي، ته دې د لېوګې زوی ته ګوره».
لرګي خرڅوونکي تېره تبر له ملا څخه را واخیست، غوښتل یې چې کور ته ورننوزي او د لېوګې د زوی سر پرې کړي خو په دې وخت کې د هغه ببر سپین ږیري خبره ور په یاد شوه چې ویل یې:«د نن غوسه سبا ته پرېږده».
لرګي خرڅوونکی د وره څخه راليرې شو او بام ته وخوت، د دود کش څنګ ته کېناست او د مېرمنې او ځوان خبرو ته يې غوږ ونیو.
لومړی ځوان خبرې پیل کړې او ویې ویل:
- مورې، زه څو کلن وم چې پلار له کور څخه ولاړ؟
- زوی جانه، ته هغه وخت درې کلن وې.
- پلار ولې موږ یوازې پرېښودو؟
- ای زویه، زه هم نه پوهېږم. له هغه وخته تر اوسه پورې پنځلس سخت کلونه تېر شول.
- زما خپل پلار هېڅ نه دی په یاد چې هغه څرنګه سړی و؟
- ته هغه ته ډېر ورته یې او ښېخي د پلار په څېر یې.
- داسې نېکمرغه ورځ به راشي چې زه خپل پلار ووینم؟ ځوان چې دسترخوان ته ناست و په دې وخت کې په ژړا شو، مور هم له هغه سره په ژړا پیل وکړ.
لرګي خرڅوونکی پروت و او له ځان سره یې فکر وکړ:«اخ، نږدې و چې د خپل ګران زوی سر پرې کړم. دا ښه وه چې هغه سپین ږیری مې لیدلی و. دا وینا«دنن ورځې غوسه سبا ته پرېږده» چې ما په هغې یوه ټنګه ورکړه، د زرګونو سرو زرو د سیکو کڅه یې را ورسوله».
لرګي خرڅوونکی په بیړه د بام څخه راکښته شو او کور ته ور ننوت، زوی او مېرمن یې ډېر خوشاله شول.
وروسته له دې هغوی په ډېره خوښي ټول یوځای سره اوسېدل.

د ازبکستان د خلکو کیسه
د ګل جان صابر ژباړه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ